


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# مجیب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 06 اپریل 2016 م

# لاړې

اوښکو نه دې ډکې پیماني کړې لاړې
زړه کې دې جوړې افساني کړې لاړې

د ښکلو مینې بې بقا وي رښتیا یې و ویل
تیښتی ته دې جوړې بهاني کړې لاړې

یادونه نه هیرېږي په ترخو به ځان موړ کم
خو ظالمې په ما دې بندې میخاني کړې لاړې

په توره شپه دې لکه شمع ویلی کړم زه
راسره دې ستي ستي پرواني کړې لاړې

یاد دې خوږدی ځان ته به جوړ ستا یو بت کم
هجر دې رانه ورکې لارې د بتخاني کړې لاړې

***
مجیب الرحمن «خطیبي »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org